AJSC
AFGHAN JOURNALISTS SAFETY COMMITTEE
کمیته مصونیت خبرنگاران افغان
د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیته

# رسنۍ په اونۍ کې/ د اکتوبر څلورمه اونۍ

دا اونۍ مو په هيواد کې د رسنيو د وضعيت ارزونه د ولايتونو له مخې کړې ده. د ټول هيواد په کچه په ولايتونو کې زموږ ولايتي همکارانو او په زونونو کې زموږ استازو په خورا دقت او زيرتيا سره په خپلو سيمو کې د بيان ازادي، د رسنيو او خبريالانو وضعيت څارلی او رپوټ ورکونه يې کړې ده. دلته مو هغه مسايل او پېښې راخستي چې په يو شمير ولايتونو کې شوې دي.

## ننګرهار

د اسلامي امارت کسانو په ننګرهار ولايت کې دوه خبريالان وهلي ټوکلي دي. دغه پېښه د اکتوبر مياشتې په ۲۴مه هغه مهال رامنځته شوه کله چې د طلوع نيوز ټلويزون او د جاج په نامه د يوه خبري ويب سايټ خبريالان د مسافرينو د وضعيت د خبري پوښښ لپاره تورخم ښارګوټي ته تللي وو. د ا.ا.ا کسانو دغه خبريالان ووهل او کمره يې ورته تر ماتولو وروسته د خوړ اوبو ته وغورځوله.

سره له دې چې د تورخم کميسار په دې اړه بخښنه وغوښته او وعده يې وکړه چې د کمرې تاوان به پرې کوي خو تراوسه دا کار نه دی شوی. د ننګرهار د اطلاعاتو او فرهنګ رييس وايي چې له پېښې خبر شوی او هغه يې له مسوولينو سره شريکه کړې ده.

## بلخ

په تيره يوه اونۍ په بلخ ولايت کې د خبريالانو پروړاندې د تاوتريخوالي کومه پېښه نه ده شوې. اطلاعاتو ته د لاسرسي په اړه محدوديتونه پرخپل ځای پراته دي، هيڅ يوې حکومتي غونډې يا مجلس ته خبريالان نه وربلل کيږي. ښځينه خبرياﻻنې ټولې په کار ناستې دي او داسې انګيرل کيږي چې د هغوی د فعاليتونو د بيا پيل لپاره کومه اراده موجوده نه وي.

## جوزجان

په جوزجان ولايت کې يوازې دوه تنه ازاد خبريالان پاتې دي او نور ټول يا له ولايته او ياهم هيواد څخه بهر وتلي دي. ملي ټلويزون او درې غږيزې رسنۍ خپرونې کوي. د آيينې او باتور ټلويزيون ملکيتونه د اسلامي امارت د سرتيرو تر ولکې لاندې دي، ددغو رسنيو مسوولين هڅه کوي ترڅو خپل ملکيتونه بيرته ترلاسه کي وا خپلې خپرونې پيل کړي. اطلاعاتو ته لاسرسی لاهم يوه ستونزه ده او ددغه ولايت د اطلاعاتو او فرهنګ رييس د هرڅه په اړه پريکړه کونکی دی.

## سرپل

په سرپل ولايت کې چې څو رسنۍ خپرونې کوې يوازې د اتو ساعتونو لپاره وي،يوازې يو څو کارکونکي يې رسمي دي او پاتې نورو يې چې په افتخاري توګه کار کاوه اوس ټول په کور دي.

## فارياب

په ميمنه کې يوازې ۴ راډيوګانې خپرونې لري، ۷ نورې راډيوګانې تړلې دي. په فارياب کې د رسنيو د نشراتو نشتوالی اقتصادي ستونزې دي. تمنا راډيو، ممتاز، ميمنه راډيو او صحت راډيو خپرونې لري.

## سمنګان

ايبک د هيواد په شمال کې ترټولو کوچنی ښار دی، دغلته پخوا هم د رسنيو شمير بيخي کم و اوس هم دغلته يوازې حقيقت راډيو او ملي ټلويزون خپرونې لري او پاتې رسنۍ تړلې او خبريالان يې وزګار دي.

## غور

په وروسيتو شپو ورځو کې هغه خبريالان چې د غور ولايت په دولتي ټلويزون کې کار کوي، شکايت لري چې په دغو دوو مياشتو کې يې خپل معاشون نه دي ترلاسه کړي او وايي که وضعيت همداسې روان وي نو مجبور به شي چې خپل رسنيز کارونه پريږدي، تر دوی وړاندې هم يو شمير د خصوصي رسنيو خبريالانو او يو شمير هم د دولتي رسنيو خبريالانو او کارکونکو خپل کارونه پريښي او اطلاعاتو ته لاسرسی لا هم محدود دی او ښځينه خبرياﻻنې خو لا د کار اجازه نه لري. رسنيو په خپلو نشراتو کې ډيرتغيير راوستی دی او د سرحد په نامه يوه راډيو خو تړل شوې ده. يو شمير هغو خبريالانو او رسنيزو کارکونکو چې لا پخوا يې خپل رسنيز

AFGHAN JOURNALISTS SAFETY COMMITTEE
کمیته مصونیت خبرنگاران افغان
د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټه

کارونه پرېښي دي اوس په هیواد دننه یا نورو هیوادونو کې درانه کارونه کوي. یوشمیر نورې رسنۍ هم د بودجې د نشتوالي له امله منظم نشرات نه لري، که د رسنیو مالي وضعیت ښه نشي د خبریالانو معاشونه ورنکړل شي او خبریالان د امنیتي وضعیت په اړه ډاډ ترلاسه نکړي، کیدای شي یو ګڼ شمیر نورې رسنۍ هم خپلې خپروني ودروي او زیات شمیر خبریالان هم خپلې دندې پرېږدي.

دا مهال په غور ولایت کې ښځینه خبریالانې د اطلاعاتو د رسوني برخه او خبریالۍ کې فعالیت نه کوي، ښځینه خبریالانې د کارکولو اجازه نه لري او هغو ښځو چې پخوا په دې برخه کې کار کاوه او ټولې په کور دي.

## فراه

دغه ولایت کې په رسنیو کې د موسیقۍ خپروني دریدلې دي. ښځینه خبریالانې په کور دي او په وقفه یې توګه دوه درې تنه خبریالانې خپرونو ته ورځي. داسې اټکل کیږي چې ددغه حالت د دوام په صورت کې به په فراه ولایت کې رسنۍ نورې ترځو میاشتو زیات دوام ونکړي.

ځو رسنۍ د موسیقۍ د نشر په خاطر د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست ته ورغوښتل شوې وې او رسنیو ته سپارښتنه وشوه چې ان په اعلانونو کې دې هم د ښځو غږونه نه خپروي.

## نیمروز

د نیمروز ولایت خبریالان د حکومت له سقوط وروسته، بې ځایه شوي او له سختو اقتصادي ستونزو سره مخ دي، د امنیت د نشتوالي احساس او د کورنۍ لپاره د لګښتونو له نشتوالي سره مخ دي. یوشمیر یې نورو ولایتونو ته تللي او یو شمیر نور یې هم ایران هیواد ته تللي دي.

د حکومت له سقوط ورځې وروسته په نیمروز ولایت کې دوه ټلویزونونه او څلور راډیوګانې د شاوخوا دوه میاشتو لپاره غیر فعالې وې.

## زابل

د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې د فعالیتونو په دوام کې، په زابل ولایت کې د کمیټې ولایتي همکار ددغه ولایت د خبریالانو ستونزو ته د حل لارو د موندنې او اطلاعاتو ته د لاسرسي په خاطر، ددغه ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ له رییس سره وکتل او د یوشمیر خبریالانو په شتون کې یې د خبریالانو ستونزې او غوښتنې له مسوولینو سره شریکې کړې. هغه همدا شان په دغه غونډه کې د خبریالانو او حکومتي دولتي مسوولینو تر منځ د اونیزو غونډو پر جوړېدو ټینګار وکړ.

په ټوله کې دا اونۍ هم رسنیو او خبریالانو له اقتصادي، وزګارتیا او اطلاعاتو ته د نه لاسرسي په اړه شکایتونه لرل. په ننګرهار ولایت کې د دوو تنو خبریالانو وهل ټوکل کیدل بیا پر پورتنیو ستونزو وراضافه ستونزه وه.